WWW.CSRSKABUL.COM

## مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
## د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

شماره: ۷۰ (از ۲۰ الی ۲۷ ثور ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## په دې گڼه کې لاندې مطلبونه لولئ:

## آزادی زندانیان و چالش‌های موجود در تطبیق عدالت


- مقدمه ........................................................................................ ۳
- وضعیت زندانیان افغان در داخل و خارج از کشور ................................................ ۳
- فرمان رئیس جمهور و چالش‌های جدی در تطبیق عدالت ........................................ ۵




ACKU

## د فاسدو چارواکو له خوا د اداري فساد د مخنیوي ناکامې هڅې


- مقدمه ........................................................................................ ۷
- د کابل ښاروال له خوا ورکړل شوې ژمنې او عملي بڼه یې ........................................ ۷
- د کابل ښاروال او وکیلانو تر منځ د ناندریو انګېزې ................................................ ۸
- د فاسدو چارواکو په لاس د فساد مخنیوي، فساد ته لار هواره کړې ...................................... ۹







ACKU

# آزادی زندانیان و چالش‌های موجود در تطبیق عدالت



### مقدمه

بر اساس فرمان شماره ۱۶ رئیس جمهور کرزی که به مناسبت هشتم ثور، بیست و دومین سالروز پیروزی مجاهدین صادر کرده است، در چند روز اخیر صدها زندانی افغان از زندان‌های مختلف کشور آزاد شدند.

بنا بر این فرمان، از پنج تا ده هزار زندانی از زندان‌های مرکز و ولایات آزاد خواهند شد که تاکنون صدها زندانی از زندان‌های ولایات و بیش از ۵۰۰ زندانی از زندان پل چرخی آزاد شده‌اند.

این در حالی است که سازمان عفو بین الملل در یک گزارش تازه در خصوص شکنجۀ زندانیان در کشورهای مختلف می‌گوید که موارد شکنجه با انواع مختلف آن، در زندان‌ها و توقیف‌خانه‌های حکومت افغانستان نیز وجود دارد.

وضعیت زندان‌ها در افغانستان چگونه است؟ چه مشکلات و چالش‌ها در مورد تطبیق عدالت بر زندانیان وجود دارد؟ و اینکه فرمان رئیس جمهور در مورد عفو و تخفیف مجازات زندانیان چه پیام‌ها را با خود دارد؟ همین موضوع را بورد تحلیل هفته در مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی، تحلیل کرده است:

## وضعیت زندانیان افغان در داخل و خارج از کشور

نهادها و سازمان‌های بین المللی همواره از وضعیت ناگوار زندانیان در زندان‌های افغانستان خبر داده و ابراز نگرانی کرده‌اند. گزارش‌ها از برخورد نامناسب و شکنجۀ زندانیان، بارها منتشر شده است.

در گزارش اخیر سازمان عفو بین الملل که در آن چگونگی شکنجۀ محبوسین و افراد تحت توقیف در ۱۴۱ کشور به بررسی گرفته شده، آمده است که مظنونین و متهمین در زندان‌ها و نظارت خانه‌های افغانستان با انواع مختلفِ شکنجه؛ مانند لت و کوب، از سقف آویزان کردن و تهدید به تجاوز جنسی روبه‌رو اند.

ACKU

در کنار آن، شماری از نهادهای داخلی نیز گاه‌گاهی وضعیت زندان‌ها در افغانستان را نگران کننده خوانده است و همچنان شماری از ناظران امور امنیتی، از وجود شکنجه در زندان‌های کشور خبر داده‌اند.

کمیسیون مستقل نظارت بر تطبیق قانون اساسی در گزارش‌های خود بارها وضعیت شماری از زندان‌ها و بازداشت‌گاه‌ها را نگران کننده دانسته و می‌گوید که در برخی از حالت‌ها فرمان‌های رئیس جمهور نیز عملی نشده‌اند.

پس از نشر گزارش‌ها در مورد وضعیت ناگوار زندانیان در کشور، همواره رئیس جمهور کرزی هیئت‌هایی را نیز مؤظف کرده است تا چگونگی شکنجه و بدرفتاری، تهدید به کشتن و سوء استفاده جنسی در زندان‌ها و بازداشت‌گاه‌ها را بررسی کنند؛ اما این تلاش‌ها نیز سودمند نبوده و باآنکه وضعیت زندانیان در افغانستان همیشه از سوی نهادهای حقوق بشری مورد انتقاد قرار داشته، در ده سال اخیر برای معیاری شدن زندان‌ها در کشور، اقدام لازم صورت نگرفته است.

هرچند زندانیان در برخی زندان‌های کشور، با اعتصاب‌های غذایی دوامدار، تلاش کرده‌اند تا مسؤولان را متوجه مشکلات در زندان‌ها بسازند؛ اما ظاهراً مشکلات در زندان‌های کشور، کماکان باقی است.

از سوی دیگر شماری از زندان‌های افغانستان مبدل به مراکز فساد اخلاقی شده و بارها گزارش‌های فساد اخلاقی در شماری از زندان‌های کشور به نشر رسیده است. به گونۀ مثال در سال ۱۳۹۰ خورشیدی گزارش‌های به نشر رسید که زنان زندانی در محبس غزنی آزار و اذیت جنسی می‌شوند. به نقل از زنان زندانی در این محبس، مسؤولان و منسوبان بخش زنانۀ زندان غزنی، بارها تلاش کرده‌اند تا بر زنان زندانی تجاوز جنسی کنند.

نیروهای خارجی نیز در سیزده سال گذشته زندان های مخفی و غیرقانونی را در مرکز و ولایات کشور ساختند که زندانیان این زندان‌ها نیز با ظلم و ستم و برخورد غیرانسانی مواجه بودند. اخیراُ این موضوع را حکومت افغانستان پی‌گیری کرد که در نتیجه، شش زندان غیرقانونی نظامیان خارجی در ولایت های قندهار و هلمند از سوی حکومت افغانستان مسدود گردید.

در کنار وضعیت ناگوار زندانیان در داخل کشور، شمار زیادی از افغان‌ها در کشورهای دیگر نیز در وضعیت بسا ناگوار قرار دارند. از جملۀ ۵۰۰۰ زندانی افغان در ایران همیشه از سوی حکومت آن کشور، ده‌ها و صدها فرد به گونۀ جمعی و به شکل غیر معمولی، بدون داشتن وکیل مدافع و محکمه اعدام می‌شوند، اما حکومت افغانستان همیشه در برابر اینگونه اقدامات، موقف ضعیفی را اتخاذ کرده و حتی یک بار سفیر ایران را در کابل، احضار نکرده است.

حکومت افغانستان باید نه تنها در ایران، بلکه در کشورهای دیگر نیز از حال اتباع خود باخبر باشد، در مورد آن گام‌های جدی بردارد، جلو اعدام‌های جمعی افغان‌ها را در ایران بگیرد و در سائر کشورها نیز در این خصوص اقدام نماید.

## فرمان رئیس جمهور و چالش‌های جدی در تطبیق عدالت

مشکلات و فساد اداری گسترده در نهادهای عدلی و قضایی افغانستان سبب شده تا افراد بی‌گناه بدون محاکمه و مشخص بودن جرم آنها، ماه‌ها و سالها را در زندان سپری کنند و مجرمین اصلی به زور پول و واسطه آزاد شوند.

قاتلان و آدم ربایانی که با مقامات بلندپایه دست دارند هرگز محاکمه نشده اند. افراد مانند حکیم شجاعی که در ولایت ارزگان صدها فرد بی‌گناه را کشت، باوجود همه جنایات مهمان ارگ نشینان بود.

فساد اداری در محاکم سبب آن نیز شده است که در برخی موارد بعضی از زندانیان از مزایای فرمان عفو و تخفیف استفاده نکنند.

واضح است که در بین کسانی که از فرمان رئیس جمهور مستفید می‌شوند، مجرمین واقعی نیز به دلیل فساد در سیستم عدلی و قضایی کشور، به جای افرادی که مجرم نیستند رها خواهند شد. در حالیکه این گونه افراد باید مجازات می‌شدند، اما بخاطر ضعف و فساد اداری در محاکم که یک دوسیه را حتی در ماه‌ها و سال‌ها فیصله کرده نمی‌توانند، بخاطر مجرمین اصلی حقوق افراد بی‌گناه زیرپا می‌شوند. حکومت افغانستان باید این پرسش را پاسخگو باشد که افراد مظنون را بر بنیاد قوانین کشور بیش از چند ساعت مشخص نگهداری کرده نمی‌تواند، پس چرا شماری زیادی از افراد مظنون ماه‌ها و سال‌ها را بدون محاکمه در زندان‌ها سپری می کنند.

تخفیف در مجازات یک امر مسلم قضایی است که در هر کشور وجود دارد. رییس جمهور صلاحیت دارد که در محدودهٔ خاص، مجازات افراد را تخفیف و یا آنها را مورد عفو قرار دهد. مردم نیز مخالف تخفیف مجازات مجرمین و یا حتی عفو آنها نیستند؛ اما می‌خواهند که تطبیق قانون و عدالت نیز در مورد زندانیان، مدنظر گرفته شود. اما اکنون افراد و گروه‌هایی از جنایت کارانی که برای دسترسی به منافع شخصی شان دست به خشونت، قتل، اختطاف، دزدی و سایر اعمال مجرمانه زده اند، در طول سال‌های گذشته محاکمه نشده‌اند و با گذشت چند مدت از بند رها شده‌اند، ولی بالعکس افراد بی‌گناه ماه و سال‌ها را بدون محاکمه در زندان سپری کرده‌اند.

مشکل اساسی این است که اکثریت مجرمان حمایت مقامات دولتی را با خود دارند و حکومت افغانستان نیز این همه مشکلات را می‌داند، اما از روی هر دلیلی که است، در این خصوص اقدامات لازم را روی دست نگرفته است. این امر باعث شده که همه روزه سطح جرائم در جامعه بلندتر شود، از داخل شهرهای بزرگ کشور کودکان و بازرگانان اختطاف شوند، قتل و قتال صورت بگیرد، نابسامانی اجتماعی به اوج خود برسد، بی‌ثباتی سیاسی و امنیتی بوجود آمده و قشر ضعیف جامعه مورد تجاوز و ستم قرار گیرد.

در پهلوی این مسائل استراتژی همه جانبهٔ زندان‌داری و بازداشت افراد اصلاً وجود ندارد. نیروهای خارجی اگر در نقاط مختلف کشور زندان‌هایی را می سازند، از خود پلان و استراتژی دارند و در کنار اینکه می‌خواهند شهروندان افغان را

ACKU

بنام‌های گونه‌گون بازداشت و ملت افغانستان را از این طریق تضعیف نمایند، مقاصد زیادی را با این کار خود دنبال می‌کنند. اما حکومت افغانستان در حالی که امکانات نگهداری اردو و پولیس خود را ندارد، ۲۰ هزار زندانی را در زندان‌های کشور نگهداری می‌کنند و اسناد و امکانات محاکمۀ آنان را نیز ندارد. با درنظرداشت مشکلات جدی در زندان‌های کشور، ضعف و فساد اداری در سیستم قضایی و عدم تطبیق عدالت، این عرصه نیاز جدی به بازنگری دارد.

ACKU

## د فاسدو چارواکو له خوا د اداري فساد د مخنيوي ناکامې هڅې



### مقدمه

پر کابل ښاروال محمد يونس نواندېش د ولسي جرګې د ځينې غړو د تورونو موضوع لويې څارنوالۍ ته ورسېده او لوی څارنوال له لومړنيو څېړنو وروسته، په يوه مطبوعاتي غونډه کې د ولسي جرګې د غړو او کابل ښاروال ترمنځ د روانو ناندريو انګېزه شخصي وبلله او ويې ويل، چې وکيلانو له ښاروال څخه ناقانونه غوښتنې درلودې.

پر کابل ښاروال د لګېدلو تورونو اصلي انګېزه څه ده؟ ايا له وکيلانو سره په رښتيا هم د ملت غم دی او که شخصي کشمکشونه دي؟ همدارنګه د ښاروال له خوا پر وکيلانو لګېدلي تورونه تر کومه پر ځای دي؟ د دې ترڅنګ ولې د جګپوړو چارواکو د غيرقانوني کړنو پر وړاندې غبرګون يوازې هغه مهال ښودل کېږي، چې د بل چارواکي شخصي ګټې زيانمنې شي؟ همدا موضوع د ستراتېژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحليل د بورډ له خوا څېړل شوې ده:

### د کابل ښاروال له خوا ورکړل شوې ژمنې او عملي بڼه يې

لومړی خو که په عمومي توګه د کابل ښاروال د تېرو کلونو فعاليتونو ته نظر واچول شي، ايا هغه ژمنې چې تل يې د رسنيو له لارې کابل ښاريانو ته ورکولې، پر ځای کړې دي کنه؟

کله چې محمد يونس نواندېش کابو پينځه کاله وړاندې په 1388 لمريز کال کې د ولسمشر د فرمان له مخې د کابل ښاروال وټاکل شو او په لومړي ځل د رسنيو په وړاندې راڅرګند شو، خلکو ته يې د کابل ښار د بدلولو تودې ژمنې ورکړې او کابل ښاريان په دې تمه وو، چې د کابل ښار رنګ به دوه درې کاله وروسته بشپړ بدل شي.

ACKU

خو د ښاروال له ګومارل کېدو شاوخوا پېنځه کاله وروسته، په ټولیز ډول د کابل ښار وضعیت ډېر خراب دی. د پراخو مرستو او سترې بودیجې له ترلاسه کولو سره سره یې، په کابل ښار کې بنسټیز او د پام وړ کار نه دی کړی. کوم سړکونه او کوڅې هم چې تر یوه بریده جوړ شوي، لومړی خو دا چې په مسلکي ډول نه دي جوړ شوي، د بېلګې په توګه له کوڅو او کورونو د اوبو د وتلو لارې په ډېرى ځایونو کې نه دي جوړې شوې؛ دویم دا چې د شوي کار کیفیت دومره ټیټ دی، چې له یوه تېز باران او په کوڅو او سړکونو کې د اوبو له راټولېدو سره ببرته ورانېږي.

په ښار کې د کانالیزاسیون او اوبورسونې سیستمونو ته پاملرنه نه ده شوې او د باران پر مهال هره کوڅه له اوبو ډکه وي، چې ښاریانو ته یې ګڼې ستونزې راولاړې کړې دي. د نړیوال بانک او جاپانی مؤسسې (جایکا) سلګونه میلیون ډالره مرستې چېرته ولګول شوې؟ ځکه په ښار کې خو یې څرک نه لګېږي.

د دې ترڅنګ دا هم ویلای شو، چې په دولتي ارګانونو کې فساد اوج ته رسېدلی او هر چارواکی د خپلو شخصي ګټو پر خوندي کولو، معاملو او د پیسو په راټولو بوخت دی؛ نو ځکه خو ښاروال هم ترې مستثنی نه دی او لکه څرنګه چې تورونه پرې لګول کېږي، په ډېرو ناقانونه کړنو او اختلاس کې هم ښکېل دی. بلخوا دا هم یو بل جرم بلل کېدای شي، چې که وکیلانو ځمکې غصب کړې وې او په غیرقانوني کارونو کې ښکېل وو، ولې یې مخکې له دې چې د ده مقام ته ګواښ متوجه شي، څارنوالۍ ته نه معرفي کول؛ داسې ښکاري چې تراوسه یې له وکیلانو سره معاملې روانې وې او د خپلو ناقانونه کړنو له رسوا کېدو یې وېره لرله.

### د کابل ښاروال او وکیلانو تر منځ د ناندریو انګېزې

دا چې که څه هم کابل ښاروال په خپلو کارونو کې پاتې راغلی او د اداري فساد او اختلاس تورونه هم پرې شته دي، چې ښایي پر ځای به هم وي؛ خو د نوموړي پر وړاندې د ځینې وکیلانو کلک او ناڅاپي دریځ ډېرې پوښتنې له ځان سره لري، ایا د ولسي جرګې غړي په رښتیا هم د ملت د ګټو لپاره دومره ژمن دي، چې خبره یې تر تحصن او خېمو درولو پورې ورسېږي او که دا شخصي ګټې دي، چې د خوندي کولو لپاره یې هر اقدام ته چمتو دي؟

د ولسي جرګې اغېز او په رښتیني توګه د ملت استازيتوب، په جرګه کې د څو کلونو له کشمکشونو او د دغې جرګې له فعالیتونو په پوره ډول څرګند شو. هرکله چې کوم چارواکی د ولسي جرګې له خوا استجواب او یا هم استیضاح شوی، په

ډېری مواردو کې څرګنده شوې، چې ګام یې د خپلو شخصي ګټو لپاره اوچت کړی او هر وکیل د خلکو د استازیتوب له نامه په ناوړه استفادې سره هرڅه چې غوښتي، کړي یې دي.

د بېلګې په توګه پوره یو کال وړاندې د 1392 لمریز کال د ثور په 26مه ولسي جرګې د مالیې وزیر حضرت عمر زاخېلوال استیضاحیه غونډې ته وربللی و، چې په غونډه کې یې د یو شمېرو هغو وکیلانو نومونه افشا کړل، چې له ده څخه یې ناقانونه غوښتنې کړې وې او پر قاچاق او نورو ناقانونه کړنو تورن وو. دې ته ورته ډېر نور موارد هم داسې دي، چې د چارواکو او وکیلانو ترمنځ معامله او موافقه شوې او خبره یې رسنیو او رسوایېنې ته نه ده رسېدلې. د ډېری وکیلانو ناقانونه کړنې، زورواکۍ او د ځمکو غصبولو موارد، د ښارنوالۍ څېړنو ته هم اړتیا نه لري او هرچا ته څرګند دي؛ خو د مخنیوي یې څوک شته دي؟!

دا ځل هم د ولسي جرګې له غړو سره د کابل ښار د خراب وضعیت فکر له سره نشته دی. هغه وکیلان د ښاروال پرضد راپورته شوي، چې له پخوا څخه د ځمکو او نورو شخصي ستونزو له امله له ښاروال سره ستونزه لري او یا هم مخکې له مخکې له ښارنوالۍ سره دوسیې لري.

### د فاسدو چارواکو په لاس د فساد مخنیوي، فساد ته لار هواره کړې

لوی ښارنوال په ښکاره د ولسي جرګې د رئیس او د ولسي جرګې د مواصلاتو او مخابراتو کمیسیون د مشر نومونه یاد کړل، چې له ښاروال څخه یې د ځمکو د ورکړې غوښتنې لرلې او د نه منلو له کبله دا تورونه پرې لګول شوي دي.

د مواصلاتو او مخابراتو د کمیسیون مشر قیس حسن کله چې ولسي جرګې ته په ټاکنو کې بریالی شو، د خپل ورور په نوم یې د ښارګوټي د جوړولو لپاره له کابل ښاروالۍ څخه 300 جریبه ځمکه په قانوني ډول واخېسته او د میرویس مېنې په نوم یې ښارګوټی جوړ کړ. ښاغلي قیس حسن پر هماغه 300 جریبه ځمکې اکتفا نه ده کړې، بلکې 700 جریبه ځمکه یې په ناقانونه ډول لاندې کړې ده او د دې موضوع ترڅنګ له ښارنوالۍ سره نورې دوسیې هم لري، چې کابو یونیم کال دمخه ممنوع الخروج اعلان شوی او څو ځله یې د نیولو امر شوی؛ خو اوس د ښاروال د ناقانونه کړنو پر ضد غږ اوچتوي، په داسې حال کې چې خپله په اداري فساد او د ځمکو په غصب کې ښکېل دی. کله چې وکیلان پر کوم چارواکي تور لګوي، که یې تورونه پر ځای هم وي، خو د وکیلانو د ناقانونه کړنو او غصبونو له امله ځای نه نیسي او د فاسدو چارواکو غلاوې او غیرقانوني کارونه په خپل ځای پاتې وي.

د هېواد عدلي او قضايي ارګانونه هم تل د مصلحتونو قرباني دي او د دې جوګه نه دي، چې د ناقانونه کړنو د مخنیوي او زورواکانو د محاکمه کولو تمه دې ترې وشي؛ بلکې خپله د اداري فساد یوه برخه ګرځېدلې ده. اصلاً خو که دغه ارګانونه څېړنې هم کوي او څوک د محکمې مېز ته کېنوي، هماغه د تورونو لګولو بنه یې خپله کړې او د خاینینو او فاسدینو د کارونو د مخنیوي په لاره کې یې، هڅکله هم ګټه نه ده کړې.

اصلي خبره دا ده، چې د افغان دولت ډېری اداري او جګپوړي چارواکي د هېواد د جوړولو او ملت ته د خدمت په فکر کې نه دي، بلکې په پراخ ډول د اداري فساد، د ځمکو د غصب په مافیاوو، اختلاس، قاچاق او نورو بېلابېلو غیرقانوني چارو بوخت دي او تر ډېره د دې جوګه نه دي، چې د دارنګه کارونو مخه ونیسي.

د فاسدو چارواکو په لاس د فساد د مخنیوي هلوځلو، خبره دې ته رسولې چې ټول سیستم یې فاسد کړی او د ملي ګټو تر نامه لاندې د شخصي ګټو لپاره یو پر بل تورونو لګولو، ټولو جګپوړو چارواکو ته دا تمه ورکړې، چې که یې د غیرقانوني کړنو موارد افشا کېږي، د خلاصون لارې به ولري. پای

ACKU